رښاکي به مونږ هیڅ کله دیو و یښته په اندازه ددغه
دین له لارې کاږه نشو اولکه څنګه موچې په لومړۍ
ورځ دعقیدې اوایمان پراساس دغه جهاد پیل کړی
دی په آینده کې به هم داسوچه اسلامي جهاد وي
اومونږ به یې داصالت ساتنه کوو او په هیڅ قیمت
یې دهیچا په لمن کې نه اچوو ، اومونږ به دخپل رب
په سیخه لاره مخ په وړاندې روان یو همغه نه توفیق
غواړو ، پرهمغه موتوکل دی هغه ډیرښه کارساز
اوښه مرستندوی دی .

مونږدا په شعوري ډول وایو : له کومې ورځې
څخه چې زمونږ اوزمونږ ددښمنانو ترمینځ دجګړې
اوربل شو یدی ګوروچې دې جهاد له ځانه سره د
دادیني زیری راوړی دی ډیرځله چې زمونږ یو مجاهد
دجنګ په ډګرکې شهید شو یدی دهغه له پاکو
و ینونه دمشکو بوی خوریږي اوډیرځله وړومجاهدو

ګرو پوښو ددښمن سترو قواو ته ماتې ورکړي چې
مونږ مجاهدین د ې نتیجې ته رسیدلی یو چې دالله
تعالی تائید له مونږسره مل دی اورب العزت جلت
عظمته به ددې جهاد په برکت مونږ اوټول محمدي
امت ته سرلوړي اوسعادت په نصیب کړي . إنشاء
الله .

ترڅو پورې چې مونږ ددغې کلکې عقیدې په رڼا کې
خپل جهاد ته دوام ورکوو د کافرانو دشمیر اوجنګي
تجهیزاتو زیاتوالی به مونږته څه زیان ونه شي رسولی،
ځکه چی الله تعالی له دوی نه بیزاردی ، اوله چانه
چې الله جل جلاله بیزار وي هغه ډیر زر له نابودۍ
سقوط اوماتې سره مخامخ کیږي . څوك چې په الله
(ج) ایمان ونه لري هغوی خپل زورته غره وي
اوڅوك چې خپل زورته غره وي هغه دالله جل
جلاله له مرستې نه محروم وي .

که مونږ لږ پوځواﷲ (ج) راسره مل دی له چاسره
چې الله تعالی مل وي هغه په واقع کې لږ ندي مونږ
له الله (ج) سره تعهد کړی چې په خپله لار به
ثابت قدم مخ په وړاندې ځو ، د بدر او احد په
غزاګانو کې درسول الله (ص) دخوږو ملګرو
کارنامې زمونږ دلارې مشال دی .
د الله جل جلاله په لارکې هیڅ ډول مصیبت ، نه
دهغوی متې کمزورې کړې او نه یې دهغوی په
ارادوکې سستی راوسته ، نه د الله (ج) په لارکې
له مرګ نه ووېریدل او نه یې دښمن ته سرټیټ کړ
« وکاي من نبي قاتل معه ربيون كثير فما وهنوا
لما أصابهم في سبيل الله وماضعفوا وما
استاكانوا والله يحب الصابرين »
مونږ پدې باور لرو چې پردښمن باندې زمونږ بری
زمونږ دایمان په برکت دی که چیرې مونږ خپل شمیر

اوزورته غره شونودښمن به مونږ تارومار اونښت اونابود کړي خوزمونږ دلاري اسره داحکم الحاکمین دربار دی له هغه نه دنصرت غوښتنه کوو اوهماغه به اورمرو نصرت راپه برخه کوي پدې شرط چې زمونږ ایمان رښتنی اومحکم وي .

« وانتم الأعلون إن كنتم مؤمنين »

ورونړو !

مونږ په داسې حال کې چې ستاسو میړانه او اسلامي غیرت راپارو و دحق خبره په ډاګه درته کوو ، سره له دې چې کیدای شي دحق خبره پرتاسې ترخه تمامه شي هغه داچې تاسې به دافغانستان دمجاهدینو ملکرتیا اوملا ترڅه وخت پیل کوی او دمهاجرینو ګوندو ، یتیمانو ، معیوبینو او بندیانو په وړاندې دخپل مسئولیت ترسره کولو لپاره به کله راپاڅیږی داسلامي امت دامنیت

دتمینګښت اودهغه له نوامیسونه ددفاع لپاره به کله
لاس په کارکیږی.وروروګلوي څه شوه ، خواخوږي
څــه شــوه اواســلام څــه شــو ؟

ورونـو !

افـغـانـسـتـان دسـره سـیـلاب په مخکې چې غواړي
اسلامي امت په مخه واخلي یوپوخ بند دی ددې بند
دورانـیـدو نـنداره مکوی ځکه چې ددې بند خبنتې
دیوملیون څخه دزیاتوشهیدانو ککری اودبدن دغوښو
بوټی دي ددې بـند بیاودانول څه آسان کارنه دی
خـدای (ج) مکره چې دجهادي مقاومت په پای ته
رسیدوسره دغه بند ونړیږي نو افغانانوخو به دالله جل
جـلاله په نزد تریوه حده خپل مسئولیت ترسره کړی
وي ځـکـه ددې امـت ددیـن اوعـقـیـدې نـه ددفاع
اودهـغـه دتیر بـرم اوعـظـمـت دبـیـاژونـدي کولو په
لارکـې یې هیڅ شی ونه سپمول . خو له افغانستان

څخه وروسته به په نوروڅه حالت راځي ؟ سیلاب به کوم لوري ته ځه کوي ؟ آیا په نوروکې دداسې قربانیو ورکولو استعداد شته ؟ آیا ددوی شرایط اوطبیعي ، ستراتیژیکي ، اجتماعي اوسیاسي حالات به اجازه ورکړي چې ددې ملت په څیر پاڅون اومقاومت وکړي ؟ اجازه راکړی وو وایم چې دخپل ورور دو یر ننداره مکوی ، ځکه چې په دې کې به دوچند تاوان ـ وګالی ، دالله له دښمنانوسره په خپلو هغودوستیو مه غولیږی چې ددپلوماسي اړیکو په نوم یادیږي . قسم په الله جل جلاله دی ترڅوچې تاسې مسلمان اوسی دوی ستاسې دښمنان دي که څه هم تاسې ددوستی په سترګه ورته ګوری ځکه چې دسره خولې عادت دادی چه ددښمن نه ځکې ددوست و ینې زبیښي.

دکابل دهغو ګوډاګیانو له انجام نه عبرت واخلی

چې کلونه کلونه یې د کمونیزم غلامي وکړه اومکافات یې له بې شرمانه وژل کیدونه پرته نورڅه نه ؤ . دخپلو زړونو کرکې مه ورپرانیزئ چې دغدر به غیشو اوتورو به یې درسوري کړي . پدې پوه شئ که تاسې نن ددوی ددوستۍ په خاطر دافغانستان دمجاهد ولس دمرستې څخه لاس ونیسئ ددې و یره شته چې سباووایئ چې مونږ په هغه ورځ تباه شوي وو چې مسلمان افغانان دتباهۍ سره مخ وو ځکه ددوی په خوله یوڅه او په زړه کې نورڅه وي ، الله تعالی ددغه واقعیت څخه مونږته داسې خبر راکړی دی : (**کیف وإن یظهروا علیکم لا یرقبوا فیکم الا ولا ذمة یرضونکم بأفواههم وتأبى قلوبهم وأکثرهم فاسقون**)

ولی ددوی په دوستۍ غولیږئ په داسې حال کې چې که ددوی لاس پرتاسې برشي نویه ستاسې

په باب نه دوستي ته وګوري اونه معاهدې ته ، تش
په خوله موخوشحاله وي خو زړونه يې دانه مني
اودوی زياتره سرغړوونکي نافرمانه دي).
کوم خلك چې روسي ملحدانوته په خپله خاوره
او په خپله ټولنه کې ځای ورکوي دهغومثال
دهغه چاپه شيردی چې په خپل لستوني کې ماران
ساتي هرکله يې چې وچيچي چيچلی به يې وي
لکه چې په افغانستان کې روسي غلامان په همدې
سرنوشت أخته شول .

دروس اودهغه دپلويانو ددښمنۍ له و يرې
دمجاهدينوملا ترمه پريږدۍ ځکه چې دالله جل
جلاله و يره د هرچاله و يرې نه پورته اودرنه ده ،
يواځې الله جل جلاله ددې وړدی چې ورڅخه
وو يريږۍ .

((اتخشونهم ؟ فالله أحق أن تخشوه إن كنتم مؤمنين))

(آیاله کافرانوڅخه و یریږئ ؟ یواځې الله جل جلاله ددې وړدی چې ورنه وو یریږئ)

دمجاهدینو په څنګ کې به دریدلو په خپل سلطنت او پاچاهۍ مه و یریږئ ځکه چې که تاسې دمجاهدینوملا تړو کړئ نو مالك الملك ذات به ستاسې ملا تړشي .

((قل اللّهم مالك الملك تؤتی الملك من تشاء وتنزع الملك ممن تشاء وتعزمن تشاء وتذل من تشاء بیدك الخیر إنك علی كل شيء قدیر)).

(ووایه ای پیغمبره ! الهی دسلطنت خاونده ! چاته چې دې خوښه شي سلطنت ورکوې اوچاته چې دې خوښه شي سلطنت ورنه اخلې ، چاته چې دخوښه شي عزت ورکوې اوچاته چې دخوښه شي

ذلت ورته په برخه کوي خیرښیګنه ستاپه لاس کې ده ته په هرشي باندې قادريې)

نوله مجاهدینوسره په ملا ترکولوسره به ستاسی عزت اوسلطنت لا قایم شي .

ترکومه محایه چې په مونږ اړه لري مونږله الله جل جلاله سره داتعهد کریدی چې دخپل دین په لارکې به دیو و یښته په اندازه هم تنازل ونه منو اونه به ددې فرصت دښمن ته ورکړوچې خپلې پښې تینګې کړي مونږ داد درکووچې روسان دخپلو ټولوجنګي تجهیزاتوسره سره مخ په سقوط اودماتې په حال کې دي . مونږ دالله «ج » سره په خپل تعهد کې رښتوني او پدې ټولو کړاوونوکې صابران یو.

ربنا أفرغ علینا صبراً وثبت اقدامنا وانصرنا على القوم الكافرين.

مګرتاسې ته هم داپکارده چې دخپلو مجاهدینو

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله أن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرورأنفسنا وسيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلاهادي له وأشهد أن لا اله الاالله وحده لا شريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله أرسله الله بالحق بشيراً ونذيراً بين يدي الساعة ، اللهم صل وسلم و بارك على هذاالنبى الكريم امام المتقين وقائد المجاهدين حبيبنا وحبيب رب العالمين صلوات الله وسلامه عليه وعلى آله وصحبه أجمعين وعلى من إهتدى بهديه الى يوم الدين .

ورونو په وراندې خپل مسئولیت ترسره کړي
درښتینو اسلامي زمام دارانو په حیث ددوی ترځنګ
ودریږي ، ځکه چې پدې کارسره دهغو حوصلې
اومورال لوړیږي .
پدې پوه شي چې دراحت ژوند پېتمن ژوند ندی
اوکه دخپل ځان دامن په خاطر دافغانستان دولس
له کړاونه سترګې پټې کړي دخپل ژوند قیمت به
مو له لاسه ورکړی وي ، ځکه چې که تاسې
اسلامي ژوند غواړئ نو کافران به هیڅ کله تاسې
دامن ژوند تیرولو ته پرې نږدي — ولا یزالون
یقاتلونکم حتی یردوکم عن دینکم أن استطاعوا

(اودوی به ترهغه درسره جنګیږي ترڅوچې تاسې
له خپل دین څخه واړوي که داکاروکړای شي).
دلته مناسبه ګنم چې ستاسې پام یومهم حقیقت ته

راوګرځوم اوهغه دادی چې دافغانستان جنګ دمادي انګیزې په بنا ددو ولسونو ترمینځ ندی پیل شوی ، بلکه د اسلام اوالحاد ترمینځ دعقیدې جګړه ده .

دادهغو اسلامی غزواتو سلسله ده چې داسلام ستر قاید محمد صلی الله علیه وسلم پیل کړیده . اومونږ دالله جل جلاله په مرسته پدې لاره روان یو . مونږ دجهاد په څوتیرو کلونوکې ولیدل چې د کمونیزم ټول ځواکونه زمونږ په خلاف سره یودي اوله یوې لیندۍ غیشي راباندې رااوروي ، خو متأسفانه ددې پرځای چې اسلامي امت د ((**وإن هذه امتكم امة واحدة**)) **الهي ارشاد** په پیروۍ یو موټی شي او زمونږ تر څنګ ودریږي ، خو کفر او الحاد په خپلو کې لاسونه سره یوکړل ((**والذين كفروا بعضهم أولياء بعض**

ИЗОА

الاتفعلوه تکن فتنة في الأرض وفساد کبیر))
کافران ځینې دځینو نورو دوستان دي که تاسې
داکار (په خپل مینځني موالات سره) ونه کړئ
نو پر ځمکه به فتنه اولوی فساد برپاوي.

ورونړو!

تاریخ ګواه دی،اسلامي امت لکه دیوې کورنۍ
او یو وجود په شان ؤچې د: ((وتعاونوا علی البر
والتقوی)) په بنیادیې یو بل ته دمرستې لاس غځوه
نه جغرافیایی پولوسره بیلولی شول اونه درنګ،
جنس اوژبې توپیرونو، ترڅوچې دغه یووالی موجود
ؤ دنړی پرټولو امتونوېې هیبت پروت ؤ. خوکله یې
چې دوحدت کړۍ وشکیده نود کړاوونو اومصیبتونو
طوفانونه پرې له هرې لوري راوالوتل، چیرته چې
اور ؤنو هغه دمسلمان په کورؤ اودهغې کاسې
حیثیت [illegible] چې له هر لوري دکافرانو لاسونه

PROPERTY ACKU 1616

ورته راوغځيدل ، زمونږ نواميس اومقدسات يې پامال اوزمونږ شتمني يې لوټ کړه ، اسلامي هيبت موله لاسه ورکړ اوداو بو دځك په شان بې وزنه او بې قيمت شوو .

نو دامت دواحد جسد اندامونه ټوټې ټوټې شول. وګوری فلسطين څه شو ؟ ترکستان څه شو ؟ از بکستان اودماوراء النهر نور اسلامی ملکونه اواندلس څه شو ؟ .

رب وامعتصماه أنطلقت
ملء أفواه الصبايا اليتم
لا مست أسماعهم لكنها
لم تلا مس نخوة المعتصم

ديتيمانو له خولې د : ای معتصمه ! ډيرې نارې سورې پورته شوې ، دحکامو غوږونوته ورسيدلې خو دمعتصم غيرت يې ونه مونده .

ورونو!

زه دخپل مسئولیت له مخې تاسې ته دا لکومې وایم چې الله تعالی له مونږنه داتعهد اخیستی دی چې حق به نه پټوو اوخلکوته به یې په ګوته کړو. هیله ده چې زماخبرې د زړه په غوږونو واورئ، زه تاسو دافغانستان د مجاهدینو اومهاجرینو په وړاندې خپلو وجایبوته متوجه کوم اوهغه ورځ درپه یادوم چې په راتلونکې یې هیڅ شك نشته، هغه ورځ چې په هغې کې دزړونو پټ رازونه را برخیره شي اوټول انسانان دمقتدر اعلی ذات په وړاندې دو یرې په حال کې ولاړوي اود هغه دفیصلې انتظار باسي چې له عذاب څخه به ویریږي اود رحمت به یې هیله من وي نوددغه دین اودغه جهاد حق اداء کړئ، تاسې نن دالله جل جلاله په وړاندې دهغه د بندګانو په باب مسئول

يی، د الله مخلوق ته دالله کلام واوروی، اودهغه له مخلوق سره همدردي وکړی، دخپلو اسلافو له فنا کیدونه عبرت واخلی چې هغوی پرون چیرته وو اونن چیرته دي ؟ چیرته دي هغه پاچایان ؟ اوچیرته دي هغه رئیسان ؟ هغوی لاړل مسئولیتونه یې به غاړه پاتې شول اوددنیا دمزوچړچو لړی یې غوڅه شوه ، دوی لاړل عمل یې خپل اومال یې دبل شود الله درکړي نعمتونه له یاده مه باسی، ځانونه دالله په بندګی عادت کړیاو نعمت دهغه له زوال څخه مخکې غنیمت وګنی ځکه ناشکري دنعمت دزوال لوی عامل دی .

همدا اوس موچې فرصت په لاس کې دی ، دژوند فرصت غنیمت وګنی: له اسلام نه پرته پرمسلمانانو بل نظام مه حاکم کوی اومه یې دعدل له لارې پرته په بله لار خوځوی. مستکبرین

پرمستضعفینو مه مسلطوی ، په خپل نني قدرت مه نازیږی بلکه راتلونکي ورځ په نظرکې ولری په داسې حال چې دمرګ په پړوکې ترلي او بیا دپرښتو ، پیغمبرانو ، شهیدانو ، صدیقانو په ټولنې کې په داسې حال کې به دقهارالله «ج» په حضور کې ولاړیږی چې دا ټول انسانان به هیبت وهلي اوولړخطاء وي اود ظالمانومخونه به توروي .

ورونړو !

دفتحې اونصرت درانږدې کیدو زیری درکوم ، داده اوسی چې دغه طاغوتي ځواکونه چې نن دنړۍ مستضعفان تهدیده وي دپانګې مادي وسایلو اوحربي تجهیزاتو په لاس کې لرولوله امله ټولنو اودولتونوته اخطار ورکوي اود الله جل جلاله په مخلوق باندې ناروا فشاراچوي دالله جل جلاله دقدرت په وړاندې هیڅ شی ندي ددوی پرځیدل

اونسکوریدل لرې مه ګڼئ تاریخ ددغه حقیت ګواه دی اوقرآن کریم مونږته دهغه چا دهلاکت اوتباهئ خبرراکوي چې له دوی نه ډیر سرکشان اودوخت په مادي وسایلو سمبال ؤ خوکله چې دسرکشئ اوانحراف اوج ته ورسیدل نوالله جل جلاله ور باندې خپل قهر ازغضب نازل کړ چې بیایې دتیښتې اوخلاصون لارنه موندله .

دننیو طاغوتانو نسکوریدل خو دفرعون،هامان اودهغوی لښکرو له رانسکوریدونه څه ګران کارندی ((الم ترکیف فعل ربك بعاد ارم ذات العماد التي لم يخلق مثلها في البلاد)).

آیا تاونه لیدل چې ستاپروردګار دستنو خاوندانو عاد ارم سره څه وکړل هغه چې په سیموکې یې سارې ندی پیداشوی .

ورونـو!

پداسې حـال کسې چـې ځـان اوتـاسې ته په تقوی توصـیه کوم ځکه چې تقوی دستونځو دحل کلی ده ((ومـن يـتـق الله يجـعـل لـه مخـرجاً و يرزقه من حيث لا يحتسب)).

ځـوك چې له الله جل جلاله نه ويريږي هغه ته به له تـنـګسې نـه دوتلو لاره جوړه کړي اوله داسې مدرکه بـه روزی ورکـړي چې په ګمان کې به ...يې هم نه راکرځي .

پـه داسې حـال کـسې چـې په اسلام باندې دننګ په خـپله عقيده باندې دټينګار او داسلامي امت دپت اوآبـرونـه ددفـاع اودالهي شـريـعـت دنـافـذولولپاره دهـلـوځلو توصيه درته کوم ، او په داسې حال کـسې چـې دجـهـاد دفـريضې دبيا ژوندي کولو لپاره دمتو رانـغښتلو توصيه درته کوم هغه چې ستاسې دلوړشان

اودرنښت تضمین کوي اوتیر برم اوعظمت مو بیا راګرځوی او پرېښبودل يې دذلت اوخوارۍ عامل دي نوددې لاندې تکوپیشنهاد کوم :

۱ ــ په پاکستان اوایران کی دپرتو

مهاجرو دپالنی خواته ستاسې پام را اړوم ، هغوی ستاسې ورونه دي اوپرتاسې يې هغه حق دی چې یو مسلمان يې پر بل مسلمان لري دانه ښايي چې تاسې په عیش اونوش کې ژوند وکړئ اودوی دپریشانیو اونار وغیو،لوږې اوتندې سره مخامخ وي ، دژمي سیلۍ اوداوړي ګرمي يې وسوځوي اوښايي تاسې دېته متوجه نه اوسئ چې دیهودیت اونصرانیت اونورګمراه کونکو اوانحرافي مفکورو لاسونه ورغځیدلي داځکه چې دوی ګوري چې پدې ساحه کې داسلامي خواخوږۍ لاسونه نه لیدل کیږي .

۲ ــ د جهاد په سنګرونوکې ناست

أما بعد ! فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم —
بسم الله الرحمٰن الرحيم :
يايها الذين آمنوا مالكم إذا قيل لكم إنفروا في سبيل الله أثاقلتم إلى الارض أرضيتم بالحياة الدينا من الآخرة فما متاع الحياة الدينا في الآخرة الا قليل ألا تنفروا يعذبكم عذاباً اليماً ويستبدل قوماً غيركم ولا تضروه شيئاً.والله على كل شيء قدير.
صدق الله العظيم

اي مؤمنانو ! كله چې تاسې ته وويل شي چې ووځۍ د الله په لاركې (جهاد) ته څه شوي په تاسو چې ناستي ته ميلان كوئ آيا په آخرت باندې دنيوي ژوندانه ته ترجيح وركوئ ؟ د آخرت په نسبت خو ددنيا د ژوند خوندونه بيخي ناچيزه دي

مجاهدین مه هیروی، اودرسول اکرم صلی الله علیه وسلم ددې مبارك حدیث په غوښتنه چې (من جهز غازیاً فقد غزا) چاچې غازي مجهز کړ هغه غازي دئ،په دې مبارك جهاد کې برخه واخلی دهغوی دحالت په یاد له زړونوڅخه و یني ثاڅي هغوی که سباناریځ وموميٍ دغرمې ډوډۍ نه لري اوکه دغرمې ډوډۍ وخوري دشپې وږي پاتې وي په سلګونو کیلومتره لار پیاده او په لوڅو پښو وهي دهغوی په باب دالله جل جلاله نه وو یرېږۍ اودهغوی په باب به دقیامت په ورځ دالله په حضور کسې درنه پوښتنه وشي .

۳ ــ له تاسې غواړو لا اقل له روسي وحشي استعمار ، اودهغه له پلو یانوسره خپلې اړیکې وشلوۍ څنګه درته ښه ښکاري چې تاسې له هغه چاسره خپلې ملګرتیاوې پالۍ چې په ظلم

اوتيري سره يې ستاسې داسلامي وطن پريوې برخې پلټنې وهلې ده اوځنګه درته ښه بريښي چې دهغه چاسره پلاس روغبړ وکړئ چې هغوی دپنجونه ستاسو دورونو سرې و ينې څاڅي الله تعالى فرمائيلي

((ياايها الذين آمنوا الا تتخذوا الكافرين أولياء من دون المؤمنين أتريدون أن تجعلوا الله عليكم سلطاناً مبينا)) .

ای مؤمنانو له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ مه نيسئ آيا غواړئ پرخپل ځان دالله تعالى دالزام څرګند حجت برابر کړئ؟

په بل ځای کې يې فرمائيلي دي :

((لا تجد قوماً يؤمنون بالله واليوم الأخر يوادون من حاد الله ورسوله))

ته به داسې يوقوم چې په الله اودآخرت په ورځ يې ايمان وي له هغه چاسره دوستي کونکي ونه مومې

چې دالله اورسول دښمنان وي .

دخپلو ملتونو په هکله له الله نه وو يريږي اودهغوی سمه نماينده کي وکړی مسلمانان پدې ندي راضي چې تاسې په افغانستان کې ستاسې په ورونو باندې دروسانو دغه تيری تائيد کړی ياور باندې خوله پټه کړی بلکې دوی ديته تياردي چې دروسانو پرضد زمونږ ترڅنګ وجنګيږی اوهغه څوك چې پرمسلمانانو باندې دکافرانو دتيري ملا تړ کوي هغه له يوې خوا په دې دنيا کې په خپلو ملتونو کې دخپل موجوديت او بقاسند له لاسه ورکوي اوله بلې خواپه آخرت کی دالله دسختې مواخذې و يره ور باندې ده الله تعالی فرمايلي دي :

((ولا ترکنوا الی الذين ظلموا فتمسکم النار))

دظالمانو ملامه تړی چې داور خوراك به شئ.

٤ ـــ غواړو چې زمونږ دافغانستان دمسلمان ملت

درسمي نماينده گانو په حيث و پيژني ځكه چې مسلمان اومجاهد افغانستان سوچه اصيل اسلامي هيواد دی تاسې تول و يني چې هغه دروسي وحشي درنده گانو دحملې مورد كرځيدلی دي .
كه تاسې دروس په خلاف زمونږ جهاد دظالم پرضد دمظلوم جهاد گڼئ كه پدې عقيده لرئ چې روس پر باطل دی اودافغانانو پرخاوره يې ناروا تيری كړيدی اوداقتدار په څوكئ يې هسې كسان كينولي چې هغوی اصلا افغانان نشي گڼل كيدای نو بيا ولې مونږ په رسميت نه پيژنئ ؟؟
له ډيرو كلونو راپديخوا دافغانستان د نمايندگئ څوكئ خالي پاتې ده تاسې به دالله جل جلاله اوخپلوملتونوته پدې موردكې څه ځواب وايئ ؟
آيامونږ له يوملیون څخه زيات شهيدان ندي وركړي؟
آيامونږ دبشري تاريخ له دې ډيرې سترې خونړه

جګړې سره نه یوځای مخ ؟ آیا موږ ددین ، پت اوعزت مدافعین نه یو ؟ آیادادخواشینۍ خبره نده چې په ملګرو ملتوکې دمجاهدینو نماینده ته په رسمیت زموږ دپیژندنې دغوښتنې په ځواب کې و یل کیږي:

ځی لاړشئ کله چې مسلمانانو په رسمیت وپیژندلۍ بیا دلته خپل بیشنهاد وړاندې کړئ ؟ موږ خو پدې عقیده وو چې تاسو به په بین المللی غونډو کې زموږ حقوق وغواړئ اوداموهیڅ په زړه کې نه راګرځیدله چې تاسې به زموږ په رسمیت پیژندنه کې درنګ وکړئ مګر ددې لپاره چې ټول نړیوال و پوهیږي په ډاګه وایو که چیرته موږ په حقه یو نوحق به خپل ځای ونیسي اوځان به پرخلکو ويژني الله تعالی زمونږ تائید ، نصرت اوملا تړ کوي .

هغه دصالحو بند ګانو ملګری دی په رسمیت سره زموږ نه پیژندل کیدل زموږ دجهاد داستمرار په

وراندې خند نشي واقع کيدلی (إن احسنتم احسنتم لأنفسكم وإن اسأتم فلها).
که تاسې ښه کوئ ښيګڼه ستاسې دخپل ځان ده اوکه بد کوئ هم له ځانه سرېي کوئ.
٥ ــ غواړو په خپلو هيوادونوکې دمجاهدينوليپاره رسمي دفترونه پرانيزئ ترڅو دهغوی داسلامي قضيې په باب له تاسې سره دتفاهم اواسلامي تړلنوته دجهاد دخبرونو اود مجاهدينو دحالاتو دېرله پسې ځرګندېدو زمينه برابره شي.
٦ ــ له تاسو څخه غواړو چې په روسانو باندې په نړيواله سطحه په اقتصادي سياسي اونورو برخوکې جدی فشارواچوئ ترڅوچې دمسلمانانوله ځمکونه وتلوته مجبورشي اومجاهدين وکړای شي دخپلې خوښې سل په سلوکې اسلامي حکومت قايم کړي.

۷ ـ داغوښتنه کووچې پرهغه شي قانع نشي پرکوم چې دحق خاوندان یعنې مجاهدین قناعت ونه لري.یواځې دجهاد په لفظي تائید اکتفاء مکوئ ، موږ له تاسي نه ددې هیله من یو چې زموږ دجهاد اهداف هم تائید کړئ ځکه چې داجهاد دمشخصو اهدافو د تحقق لپاره پیل شوی ، داسې ونه شي چې ستاسو یاستاسو دځینوموافقو له امله زموږ دشهیدانوو ینې په هدرلاړې شي ځکه چې موږنیم بنده سیاسي حل نشومنلی اوهرهغه حل چې دالهی حکومت دجوړیدو متضمن نه وي په کلکه غندو موږ هیڅ کله دکفري نظامونوترلاس لاندې او یا په ائتلافي حکومت کې دهغوی ترڅنګ ژوند تیرولوته حاضرنه یو موږ به خپل وسله وال جهاد ته ترهغه ادامه ورکوو چې الله تعالی له دوونیکونه یوه راپه برخه کړي یافتحه یاشهادت.تاسي هغه حل ته غاره

مه بزدی چې د هغه په نتیجه کې دروس له وتلونه وروسته په افغانستان کې کفر پاتې شي که داکارمو وکړ نوتاسې به له جهاد ، خپلو ځانونو او خپل هغه امت سره ظلم اوجفاکړې وي چې دښمنان ورته په کمین کې ناست دي .

۸ــ په اسلامي او بین المللی غونډوکې دافغانستان دقضې دمطرح کیدو په وخت کې یوازې دخولې په غندنه اکتفاءکول کوم درد نشي دواکولی اونه داد اسلامی مروت اومیړانې لارده ، بلکې داقضیه دالله جل جلاله له امر سره سم دجدي اوعملي اقدام غوښتونکې ده .

۹ــ هغه مهم څه چې موږ درنه غواړو دادی کله چې تاسې دافغانستان د قضې په باب فکر او پریکړې کوئ دالاندې امور په نظرکې وساتئ:لکه څنګه چې دافغانستان خلك آزاد دي

اومستقل اسلامي شخصيت لري دځپل هیواد
دسرنوشت په تعین له هرچانه ښه پوهیږي پدې هم
ښه پوهیږي دې قضيې لپاره منصفانه اومناسب حل
کوم دی ؟!
هره پریکړه چې په هغې کې دافغانستان دملت
دارادې پرخلاف چې جهادي قوتونه يې تمثیل کوي
صادریږي اوهرهغه پریکړه چې په هغې کې
دمجاهدینو دهغومشروعو مقاصدو اواهدافو رعایت نه
وي شوی چې د هغو دتحقق لپاره جهاد کوي لکه
ددې خاورې څخه دروسي پوځونو شړل دکفر
اوالحاد دآثارو محوه کول او داسلامي راشد حکومت
قایمول ، اوهره هغه پریکړه چې په مسلمان
افغانستان کې دکفري رژیمونو دبقاتضمین کوي
هغه دمجاهدینو لپاره دمنلو وړنده بلکې داد افغانستان
دحریت اواستقلال پرمخ یوه سخته څبره ګڼل

کیږي. روسانو چې پدې ورو وستیو وختونوکې دخپل مزدور اوغلام نجیب په خوله داوربند ، ملي سولې اوله مجاهدینوسره دائتلافي حکومت دجوړولو دندورې شروع کړي دي ، داهرڅه دهغودسیسو دسلسلې یوه کړی ده چې روسان په هغوسره دنړیوالو په سترګوکې خاورې اچول غواړي خوله نیکه مرغه ټول خلك دروسانو له کید اومکر څخه خبر دي اوزموږ مجاهد ولس به هیڅ کله پدې دسیسو اوچلول تیرنوځي اوخپل مقدس جهاد ته به په پوره بیداری اوهوښیاری دخپل لوړ اوسپیڅلي ارمان دپوره کیدو ترسرحده دوام ورکړي . عقل به څنګه داومني چې بدې له مکره دکو پستوغوړو خبرو دې څوك تیروځي پداسې حال چې روسي قواوې دې په افغانستان کې موجودې وي دروس لاس پوڅې ملحد کمونست رژیم رانسکورشوی نه

. که لا ړنشي (جهاد) ته الله (ج) به تاسې په دردوونکي عذاب اخته کړي .

اوستاسې پرځای به یوبل قوم رامینځ ته کړي اوتاسو به الله ته هیڅ زیان ونشي رسولی او الله تعالی په هرڅه قادردئ .

ګران ورور د کویټ آمیر ، داسلامی هیوادونو محترمو مشرانو اورئیسانو !

خوشحاله یم چه دافغانستان د او و جهادي تنظیمونو دمشرانو ورونـو به نیابت چې دمجاهدینو ، شهیدانو ، افغان پتمن اومؤمن اولس دهیلو ممثلین دي ، په دې شانداره نړیواله اسلامي غونډه کې تاسوته داسلامی مسنونه سوغات په وړاندې کولو وایم : السلام علیکم ورحمة الله و برکاته !

همدا رازخپل تحیات اونېې هیلې له همدې ځایه د محمد صلی الله علیه وسلم ټول امت ته ، هغه

وي اوتول هغه عوامل دي نه يواځې دېخواپه شان پاتې بلکې زيات شوي وي لکه کفري اوالحادي حکومت ، دېردیو يرغل اودمسلمان ملت دخوښې داسلامي حکومت نشتوالی ، نو په دغسې حالاتو اوشرائطو کې ددغوتولو قربانيو ورکولوسره ددغه راز پيشنهادونو منل ، دښمن ته له تسليميدو اودشهيدانو دوينو ضايع کولو پرته بله معنی نه لري ددغو څرګندو حقايقو په رڼا کې اوه جهادي تنظيمونه چې دافغانستان دقضيې په حل کې دمجاهدينو دغوښتنې ښکارندوی دي ، په يوه اتفاق سره دالاندې پريکړه صادره وي :

الف : مونږ په داسې حال کې چې دروسي قواؤ په بشپړه توګه فوري او بې قيد اوشرطه وتل غواړو ، ددې کار دافغانستان دآزادۍ او په افغانستان کې داسلامي حکومت دقايميدو لپاره

وسله وال جهاد له دوام ځخه پرته بله لاره نه وه .

ب : دروسي قواؤ له وتلو اود کفري اومزدور رژيم له رانسکوريدوسره سم به دمجاهدينومؤقت حکومت دخپل هيواد په واکې په لاس کې نيسي.

ج : ددې مؤقت حکومت ترڅارنې لاندې به ژرترژره آزاد انتخابات کيږي او په نتيجه که به يې اسلامي شورئ اواسلامي منتخب حکومت مينځ ته راځي.

د : دمؤقت حکومت دتاسيس اوددغه حکومت د صلاحيتونواومسئوليتونو دټاکلو لپاره دلوائحوجوړولو اوطرحې وړاندې کولو په غرض يوکميسون په اتفاق سره وټاکل شو چې دغه کميسون دروان کال دفروري له لومړنيو ورځوڅخه په عملي ډول خپل کارپيل کوي . اوديوې مياشتې

په موده کې به خپله مسوده تکمیل اودمباحثې اومناقشې لپاره به يې داتحاد عالي شورا ته وړاندې کوي .

هـ : ديومقتدر او باصلاحيته قضائي کميسون په تاکنه اتفاق وشو چې هغه دمجاهدينو دمينځ شخړې فيصله کوي او پدې مورد کې شرعي فتواوې صادره وي اودغه کميسيون فيصلې به په افرادو اومجاهدو ډلو باندې نافذې وي .

و : دمنتخبې شورى له تشکيليدوسره سم به دهيواد اساسي قانون تدوين اوتصويبيږي اودغه قانون به زمونږ دمؤمن ملت دژوند په ټولو اړخونو ساحوکې په بشپړه توګه د اسلامي شريعت د تطبيق متضمن وي همدارنګه له تاسوڅخه غواړو چې دمجاهدينو خبرونه ، دريځونه اونظريات دهمدردۍ او اخلاص په ولوله خپاره

کړي . ځکه مونږ تل داو ینوچې ددغې مهمې قضیې خبرونه یا خونه خپریږي او که خپریږي نوځینې مطبوعات اوراديو ګانې مونږ په داسې نومونو اوصفتونوسره یادوي چې له مجاهدینوسره نه ښایي .

باید ووایم چې پدې وروستیو وختونوکې په کابل کې دروس دګوډاګي رژیم په خوله اعلان شوې ملي سولې دحیرانتیا وړ اغیزه کړیده آن تردې پورې چې : داسلامي هیوادونو دخارجه وزیرانو په اجنداکې یې هم انعکاس ګورو .

مونږ نه پوهیږو که چیرته دغه روانه جګړه زمونږ اودروس او په کابل کې دروسي غلامانو ترمینځ وي څنګه کیدای شي چې دلته دملي سولې موضوع مطرح شي ؟ آیاروسان زمونږ وطن وال دي؟ آیا هغه کسان چې دروسانو په بدرګه کې په روسي ټانکونوسپاره افغانستان ته رانوتل اودخپل

وطن ، وطنوالو اوددې هيواد دعقيدې اودين په ضد يې دجګړې اوربل کړ ، ددې وطن زامن اوددې ملت جزءګنل کيداى شي ؟ !

هو ! که روسي قواوې زمونږ له هيواد نه ووځي اوهغه الحادي نظام چې روسانو له ځانه سره راوړى او پرمسلمان افغان ولس يې تحميل کړى رانسکورشي نوکه په هغه وخت کې دمسلمانو افغانانو دوګرو يادلوترمينځ شخره اونزاع راشي بيا په هغه وخت کې کيداى شي دملي سولې پر موضوع بحث وشي .

تاسونه زمونږ هيله داده : زمونږ قضيې ته دحق او واقعيت په سترګه وګورئ که چيرې زمونږ ترمينځ څه اختلاف راشي نوموږ به د اسلام له غوښتنې سره سم دالله جل جلاله په کتاب اودرسول الله صلى الله عليه وسلم په سنت فيصله کوو:((ياايها الذين آمنوا

إذا تنازعتم في شيء فردوه الى الله والرسول))
اى مؤمنانو!كه چيرته ستاسو ترمينځ په يوشي باندې شخړه راغله نوالله اودهغه رسول ته يې وړاندې کړى.

داسلامى هيوادونو مشرانو ورونو !

زه دمجاهد افغانستان دقضې په هکله تاسې ته وغږيدم چې تازه اوهمدا اوس روانه قضيه ده خو بيت المقدس ، دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دمعراج تم ځاى چې داسلامى امت دعزت رمز اوزمونږ دوجود عنوان دى کوم چه دحضرت عمر رضى الله تعالى عنه په لاس فتحه شوى او بيا زمونږ وروړصلاح الدين رحمة الله عليه آزاد کړى دى زمونږله ياده نه دى وتلى .

بيت المقدس دهرهغه مجاهد په زړه کې ځاى

اوقدرلري کوم چي دافغانستان په جهاد بوخت دي

مونږ که نن له بیت المقدس څخه په لرې فاصله کې

دخدای لپاره جهاد کوو سبا به انشاء الله دبیت

المقدس دآزادی لپاره دهغه په چاپیریال کې

جنګیږو.

مونږعقیده لروچې دسباوون څرک په

ځلیدواودآزادی ورځ نژدې ده.په الله قسم کوم چې

مونږ به ددین په لارکې ذلت ته غاړه نه ږدو که

چیرې دین ثریاته هم اوچت شي مونږبه ځان

وررسوو.

مونږ دالله جل جلاله له نصرت او یاد الله په لارکې

له شهادت څخه پرته بله دحل لاره نه وینو اوداجل

غشئ په خپل وخت راځي داسې نه ده چې لومړی به

همدامونږ لګیږو!

ددې نیک فرصت نه په استفاده کولوسره دمحمد

صلى الله عليه وسلم ټول امت ته خطاب کوم چې :

خپل کرامت اوهیبت بیرته راوګرځوی، له تیتې او پراګنده وضعې نه ځان وحدت ته راو باسی، او یوځل بیا د ((خیر امة)) په توګه دنیاته مخ کړی، په نیکو کارونو امر ورته وکړی، اوله بدو یې منعه کړی، او په الله رب العالمین پوره ایمان ولری.

ځکه له دې چې خپلې خبرې پای ته ورسوم خپل باورڅرګندوم چې :

داسلام شانداره دور راتلونکی دی دادحل هغه یواځنی، او بیسارې لاره ده چې دځکې دمخ ټول اوسیدونکي به له هغو خطرونونه وژغوري چې ددوی ژوند تهدیدوي .... دغه هجري مبارکه پیړۍ سره له دې چې مونږ یکسې فتنې کړاوونه اوسختې آزموینې ګورو خوله ځان سره

يې دځلانده سباؤن ورانکې راوړي دي (ولقد
كتبنا في الزبورمن بعد الذكر إن الأرض يرثها
عبادي الصالحون إن في هذا لبلاغاً لقوم عابدين)
مونږ په زبورکښي له نصيحت نه وروسته داليکلي
دي چې دځمکې وارثان به زما نيك بنده ګان وي په
دې کښې دعبادت کوونکو خلکو لپاره لوی خبردی.

او په پای کښې دکويټ له دولت څخه دښې ميلمه
پالنې او داسلامي کنفرانس له تنظيم څخه مونږ ته
دوخت راکولو له امله شکريه اداء کوو او همدا راز
دپاکستان داسلامي جمهوريت له جمهور رئيس
اوملت څخه مننه کوو چې مهاجرينوته يې پناه
ورکړې او دجهاد دقضيې په باب يې دميرانې دريځ
غوره کړيدی . او همدا رنګه دعربستان حکومت
او ولس دشکر ګذارۍ دمراتبو په څرګندولو کې

نشم هيره ولی چې دافغانستان دجهاد دقضيې په هکله يې سنبه احساسات څرګند کړي او غوره دريځ يې نيولی دی لکه څنګه چې دټولو هغو مسلمانانو شکريه اداکوو چې پدې جهاد کې يې په سر، مال او دوعاسره برخه اخيستې ده او وايم : خو تاسې آمين راپسې وايئ !

اللهم انت الناصر لدينك والمعز لأوليائك قديماً وحديثاً ، اللهم إفتح لنا فتحاً مبيناً وانصرنا نصراً عزيزاً ، واجعلنا من لد نك سلطاناً نصيراً . اللهم شجع جبنائنا وثبت أقدامنا وزلزل أقدام عدونا وادخل الرعب في قلوبهم واستأصل شأفتهم واقطع دابرهم وأبد خضرائهم وأورثنا أرضهم وديارهم وأموالهم ، وكن لنا ولياً وبنا حفياً واجعلنا من الذين بلغوا وأدوا الأمانة،ألا ! هل بلغت ؟ اللهم فاشهد،ألا ! هل بلغت ؟ اللهم

امـت تـه چـې دفـتـحې اونصرت وعده ورسره شوې
وړاندې کوم .
لـکه ځنګه چـې دقهرمان افغانستان د مجاهدو بچيانو
دجـهـاد دسـنـګـرونو دزمريانو ، د ذلت دځنځيرونو
مـاتـوونـکـو ، ددنـکـو غـرونـو اوسردرو داوسيدونکو
تحيـات اوسـلامـونـه هـم درتـه وړاندې کوم ، دهغو
کسانوچې دګران اوخوازه اسلام په خاطرېې ځانونه
قـر بـان کـړل ددعـوت اوجـهاد کرونده يې په خپلو
پـاکوو ينو خړوبه کړه ... اوداسلامي امت دعزت
اوکرامت دساتنې لپاره يې خپل ټټرونه سپر کړل او
دالله تـعـالی پـه مـرسـته خپل جهاد ته ادامه ورکوي
اوکـه خـدای (ج) کـول غـلـبه او برلاسۍ به يې په
برخه وي .

ورونـــو !

دافـغانستان مسلمان ملت په کلکه د خپل دين

ABIG
B
4.3831
SAY
1610

خپرونکی : داسلامي اتحاد ددعوت اوارشاد کمیټه .
شمیر : ۵۰۰۰ جلده .
داسلامي اتحاد مطابع .
کال : ۱۳٦٦ هـ ش .

فاشهد ، ألا ! هل بلغت ؟ اللّهم فاشهد .

وصلى الله تعالى على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيراً .

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته !

PROPERTY OF ACKU
1610

پیروي کوي ، په خپلې عقيدې و ياړي له اسلامي

امت سره دميني او وروري نه شليدونکې اړيکې

لري ، اسلامي شمله يې په نړۍ کې دنګه ده

همدالامل دی چې تل يې خپل هغه دښمن ته غاښ

ماتوونکی ګوزارورکړی چاچې ددوی عزت او

آبروته په بده سترګه کتلي اوتل يې له خپلې خاورې

نه استعمار تورمخی اوشرمنده و يستلی دی .

انګريزان يې په داسې حال کې په شا تلوته

مجبور کړل چې په هغه وخت کې د هغوی لو يه

امپراطورۍ کې په اصطلاح لمر نه پريووت .

افغانستان د تاريخ به اوږدو کې داسلامي لوړشان

اوشوکت خاوند وو ، دی او په آينده کې به هم

وي انشـآء الله اود نړی هيڅ يو ابرقدرت ته به ددې

اجازهٔ ور نکړي چې ددغه آزاد اسلامي هيواد حتی

يوه لو يشت ځمکه اشغال کړي .

محترمو ورونو!

مسلمان افغانستان چې د اسلامي نړۍ یوه نه بیلیدونکې برخه ده ددې هجري پیړۍ پیلیز سرخط یې د اتلولیو او بریالیتوبونو په هغو زرینو کرښو ولیکه چې د ټول اسلامي امت له پاره د عزت سرمشق شو او دجهاد په اوږدو کې یې دخپل دین د ساتنې په خاطر له یوملیون څخه زیات شهیدان ورکړل . په لکونو کسان یې بې لاسونو ، بې پښو او بندیان شول چې په زندانونو کې غیر انساني تعذیبونه اوشکنجې و ینې ، کلي اوکورونه یې د توپونو په ګولیو اوبمباریو په کنډوالو بدل شول او په ملیونو خلك یې هجرت کولوته مجبور شول .

ددې هیواد دغرونو، رغونو، کلیو اوښارونو، لارو اوکوڅولو یشت لو یشت دهغه د بچیانو په وینو رنګ ده ، داور لوګي اولوخړې دي چې آسمان ته

پورته کیږي او دآسمانونو اوځمکی مالك ته دسپین ږیرو ، ماشومانو ، اوسپین سرو فریادونه له ځانه سره وړي.

دلته به هیڅ داسې یو کور ونه موندل شي چې په هغه کې به یتیم اوماتم نه وي اوددې اسلامي خاورې خلکو دځپلو کوړیو ، دبدن دټوټو اوخوږو و ینو په نذارنه کولوسره دخپل رب په وړاندې خپل دغه مسئولیت اداکړ چې دخپل وس اوتوان تروروستي سرحده ددغه دین څخه ددفاع په لارکې یې سپما ونه کړه چې دن مونږ دهغه په نوم دلته راټول یو اوهمدارنګه داټولې قربانۍ یې دروسي متجاوز اووحشي استعمار دمخنیوي په خاطر چې غوړي داسلام ریښې له بیخه راوباسي اوپرځای یې په اسلامي ټولنو کې دکفر اوالحاد مفکوو مسلطه کړي ورکړي دي .

خوږو ورونو !

مجاهد افغانستان دالله تعالی په توفیق اومرسته وکولی شول چې دعصر ستر طاغوت راپه ګونډو کړي .

همدارنګه مجاهد افغانستان دمحمدي امت په وړاندې داثابته کړه چې دا امت دځمکې پرمخ کولی شي آزاد پتمن اوسرلوړی ژوند وکړي او دهیچا اسارت اوغلامي ونه مني او داچې دا امت کولی شي چې دجاهلیت په تیاروکې د لاروزکي اوکړیدلي بشریت لاس نیوی وکړي اودغرقوونکي سمندر له طوفانی څپونه یې دنجات ساحل ته راو باسي اودایې هم وښودله چې دایمان سنګرنه ماته خوري اونه نړیږي اګرکه کفري طاقتونه خپل ټول ځواك په مجموعي دول پرې استعمال کړي اود خپل توان تروروستي سرحده دزور اوتنزو یر وسایل په کاروا چوي ، داځکه چې ددغه سنګر دقوت سرچینه

دهغه برلاسي ذات لا یتناهی طاقت دی چې په ځمکه اوآسمان کې یې هیڅ شی د مقابلې توان نه لري هغه ترټولو لوی اولوړدی .

سر بیره پردې افغانستان د الله «ج» په توفیق اومرسته وکولی شول چې پدې امت کې دېت ، عزت اوسرداری احساس بیاراژوندی کړی اوله مخ نه یې د خوارۍ اوذلت دورې دتل لپاره وشندې .

ورونو !

کله چې مونږددې ملت ثبات اومتانت ، میړانې او برلاسیو په باب خبرې کوو دامعنی نلري چې مونږ دخپل مټ اومادي وسایلو په زورپردغو ستونځو بری موندلی دی یا دلښکر او وسلې ډزیات والي له امله پردښمن غالب شوي یو بلکه داهرڅه دالله (ج) په مرسته ، نصرت ، فضل اواحسان راپه برخه شویدي ددې عقیدې اوسپیڅلي احساس په

إن هذه امتكم امة واحدة

دکویټ په نړیوال اسلامي کنفرانس کې:

داستاد سیاف وینا

إن هذه امتكم امة واحدة

دکویټ په نړیوال اسلامي کنفرانس کې:

داستاد سیاف وینا

PROPERTY OF
ACKU
1610

د ۱۹۸۷ کال دجنوری په ۲۶ چې د ۱۳۶۵ کال

ددلوې دمیاشتې د ٦ نیتې سره برابره ده په کویټ

کې نړیوال اسلامي کنفرانس جوړ شوی ؤ چې په

هغه کې دافغانستان د او و جهادي تنظیمونومشرانو

ګډون وکړ.په دغه کنفرانس کې د افغانستان

دمجاهدینو اسلامي اتحاد رئیس محترم مجاهد ورور

استاد «سیاف» یوه مفصله وینا وکړه چې دهغې

پوره متن په دغه رساله کې وړاندې کوو.